# دمعلوليت لرونكو كسانو وضعه او په کورنيو او ټولنه کي دهغوی ستونزي

# لړ لیک


سرلیکونه
سریزه
دڅېړني ډول
دمعلولیت مفهوم
شمېریزه ټولنه
شمېریزه بېلګه
دڅېړنې سیمه
داطلاعاتو راټولولو ډول
دڅېړنې موندنې
دمعلولیت ډول
دځواب ورکوونکو عمر او جنسیت
مدني حالت
دمعلولیت لرونکو دلوست وضعه
دمعلولیت لرونکو اقتصادي وضعه
په کورنۍ او ټولنه کي دمعلولیت لرونکو وضعیت اوستونزي
په کورني چاپیریال کې ستونزي
په ټولنه کې ستونزي
روغتیایي او ټولنیزو خدمتونو ته لاسرسی
دستونزو، جنسیت، بدلونونو، لوست، بوختیا او اقتصادي وضعې ترمنځ اړیکې
جنسیت
لوست
بوختیا (کار)
ورځنی عاید
اقتصادي وضعه
پایلی او وړاندیزونه
نښلونې( ضمیمې)

## یادونه:

دغه څېړنیزه پروژه دافغانستان دبشري حقونو خپلواک کمېسیون او دڅېړنیزو څېړنو دمرکز له خوا پـه ګډه ترسره شوې ده.

په دې ډول چې:

دپوښتنلیکونو جوړول د پوښتونکو روزنه، په سېمه کې دپوښتنو پر املا باندې څارنه، په کمپیوتر کې دمعلوماتو ثبت او لومړنۍ کمي تحلیل، د ټولنیزو څېړنو دمرکز لخوا ترسره شوی دی او پوښتنې بیا د پوښتونکو له خوا (دکمېسیون د سیمه یزو څانګو کار کوونکو) جوړې شوې دي. دهغه پوښتونکو املا، دویم کمي تحلیل او د اوسني رپوټ لیکل دافغانستان دبشري حقونو دخپلواک کمېسیون دڅېړنې څانګې له خوا سرته رسیدلي دي.

دابايد زياته کړو چې دټولنیزو څېړنو دمرکز دسرته رسیدلو کړنو لګښت دافغانستان دبشري حقونو خپلواک کمیسیون له خوا ورکړل شوی دی.

## سریزه:

معلولیت دبشري ژوند دحقیقتونو څخه دی، چې د تاریخ په بهېر کې یې په ټولو ټولنو کې په  بېلابېلو بڼو شتوالی درلود. نن ورځ هم دپرمخ تللو او وروسته پاتي هیوادونو  ټولنې معلول شوي کسان لری. دتاریخ په تیریدو سره دمعلولیت تعریف بدل شوی دی او په مختلفو ټولنو کې دهغه تعریف توپیر موندلی دی، خو هغه موضوع چې په ټولو کې ګډه وجه لري هغه دمعلولانو وضعې ته کتنه او د دولت له خوا دهغوی له پاره دیوه پروګرام جوړول او دهغه پلي کول دي ترڅو دمعلولانو په وضعیت کې ښه والی راشي.

ډېر علتونه شته چې هغه دمعلولیت سبب کېږي. ځیني علتونه طبیعي دي لکه دمور څخه معلول زیږیدل، ژینتکې نیمګړتیاوي، دطبیعي ،او انساني (ترافیکی) پیښو او دجګړو له امله معلولیت  پیښیږي. که څه هم معلول والی دځینو کسانو دګړندیتوب مخه نیسي، خو ددې څخه باید داسی مانا وانه اخیستل شي چې معلول کس هیڅ هم نشي کولای، دا ډول پوچ فکرونه کوم منطقي دلیل نلري. ډېر لیدل شوي دي چې ځیني معلول کسان دغیر معلولو کسانو په پرتله ډیره وړتیا او استعداد لري. معلول کسان په ټولنه کې هغه حقونه لري کوم، چې نور کسان یې لري. څرنګه چې معلول کسان دخپل معلولیت له له امله په ټولنه کې دځینومحدودیتونو سره مخامخ دي او دغه حالت  دهغوي دکړنوسیمه ورتنګوي نو په کار دي چې ټولنه دهغوی دژوند دعادي پرمختګ له پاره ځیني اسانتیاوې برابری کړي.

دمعلولو کسانو دژوند دښه والي پروګرام هله بریالی کېږي، چې ددغه کسانو دژوند او دهغوی دستونزو څخه پوره معلومات ولرو، چې دهغه پر بنسټ راتلونکې پروګرامونه برابر کړو. د همدې له پاره دغه څیړنه په کورنیو او ټولنه کې دمعلولو کسانو پرستونزو باندي رڼا اچوي.مخکې له دې نه چې پردې موضوع باندی ژوره څیړنه وکړو، نو یولنډ غوندي معلومات به  افغانستان کې د معلولو کسانو او دهغوی د ستونزو په اړوند وړاندی کړو.

دنړیوال روغتیایي سازمان دشمیرنو له مخې په نړۍ کې 650 ملیونه کسان معلولیت لري. چې په سلو کې 80٪ یې مخ پرودې هیوادونو کې اوسیږي او دهغوی یو پر دریمه برخه ماشومان جوړوي. خو په افغانستان کې دمعلولو کسانو ریښتینی شمیر په لاس کې نلرو. دروغتیا وزارت دشمیرنو له مخي په دې هیواد کې 599400 معلول کسان اوسیږي. په داسی حال کې چې دپوهنې وزارت او  UNICEF دمعلولانو شمېر 631000 کسان او د UNPF موسسه دغه شمېره 807300 ښیي [1] دمعلولو کسانو شمیره دوخت او دمعلولیت په تعریف سره توپیر کوي، دبېلګې په توګه هغه معلولیتونه چې په بېلابېلو بڼو په هیواد کې ددریو لسیزو جګړو له امله را پیدا شوي دي، پنځوس کاله پخوایې داسې نه وو او یا داچې دتیری پېړۍ په پرتله باندي

[1]- دهدیکپ نړیواله موسسه 2005

دپولیو دناروغۍ له امله دمعلول کسانو شمېره راټیټه شوې ده. خو دربښتینو شمیرو نشتوالی ناوړه ستونزي رامنځ ته کوي، که چیرې موږ دمعلولو کسانو شمېر له شته حالت نه لږ وښیو نو په دې صورت کې هغه پروګرام چې موږ ددوی له پاره جوړووله هغه ځحه ټول معلولان ګټه نشي اخیستلای او برعکس که چیرې موږ دهغوی شمېر ډیر وښیو نو کوم پروګرام، چې جوړوو هغه دوخت او لګښتونو په له پلوه زیاتی دی او دبریالیتوب مخه نیسي. خو په دې باندي هم پوهیږو چې په افغانستان کې دربښتینو شمیرو لاس ته راوړل دامکان ځخه لیري ښکاري، خو دربښتینوشمیرو د لاس ته راوړلو له پاره باید ډیره هڅه وکړو. دهندیکپ دنړیوالې موسسې دشمیرني له مخې په افغانستان کې 655930 کسان معلول دي [۲] چې دافغانستان په مختلفو سیمو کې دهغوی شمیر توپیر کوي لکه ځنګه چې معلومه ده دافغانستان په جنوب او لویدیځ کې دهغوی شمیر ډیر دی او ختیځې سیمې بیا ډیر لږ معلول کسان لري.

دهندیکپ دموسسې دشمیرني له مخي په افغانستان کی ترټولو معمولي معلولیت هم هغه فزیکې معلولیت دی چې 36.5٪ جوړوي، دمعلولیت نور ډولونه عبارت دي د حسي معلولیت لکه ړوندتیا او کوڼ والی 25.5٪ دماغی معلولیت 9.8٪، میرګي 18.8٪ او نور ډولونه 9.4٪ په دغه شمیرنه کې داهم راغلي دي چې دفزیکې معلولیت په برخه کې دښځوپه پرتله د نارینه وو شمېر ډېردی 72.6٪ او په ښځو کې بیا دمیرګي یا سیږر معلولیت تر نارینه وو ډیر دی 71.8٪، ددې ترڅنګه ډیر ماشومان او زاړه کسان دنورو ډلو ځخه په فزیکی معلولیت باندي اخته دي. دیادې شوې موسسې په وینا دمعلولینو ډیره برخه په ښارونو کې اوسیږی، نه په کلیو او بانډوکې. په ښارونو کې هم ددماغي معلولانو شمېر تر کلیو ډیر دی. دا په داسې حال کې ده چې په ښارونو کې هم ددغه شان کسانو له پاره داسانتیاو او خدمتونو ستونزی ډیری دي. اوس به داټکی روښانه کړو چې دمعلولو کسانو دخدمتونه مسوولیت دچا پرغاړه دی؟

په پرمخ تللو ټولنو کې او مخ پرودې هیوادو کې دمعلولو کسانو له پاره داسانتیاوو برابرولو مسوولیت ددولت پر غاړه دی. د دولت رول په مستقیمه توګه دوی ته د اوسیدلو دځایونو په برابرولو کې دی او په غیري مستقیم ډول باندي بیا له نورو موسسو سره داسانتیاو په برابرولو کې مرسته کوي ،خو دافغانستان دولت تر اوسه پورې په دې نه دی بریالی شوی چې د منلو وړ د ژوند مناسب شرایط ورته برابر کړې. داسانتیا وو برابرول او دمعلولانو ترمخه ستونزي چې هغوی ورسره مخامخ دي، یو په یوه باندي نشو شمیرلای هغه ستونزی چې دولتی ځانګې یې دلیری کولو مسوولیت لري لکه په دغو ځانګو کې داسې اسانتیا وې راوستل، چې یو معلول کس وکولای شي په اسانۍ سره هغه ته ورشي لکه د ارابه لرونکو څوکېو (wheel chair) نشتوالی او دروغتیایی او روزنیزو اسانتیاوو نشتوالی دهغه ډیرو ننګونو

[۲]- دهندیکپ نړیواله موسسه 17 مخ. (Tward well-being for Afghanistan with disability)

له ډلی نه شمیرل کېږی چې دافغانستان دمعلولانو په مخ کې خنډ اچوی او دهغوی دژوند دښه کېدو مخه نیسي په دې لاره کې دافغانستان ددولت هڅې نه لیدل کېږي، دمثال په ډول دولت یو معلول کس ته دمیاشتی 400 افغاني ورکوی، چې دغه پیسې دنںو لوړ بیو او نورو اړتیاوو برابرولو لکه کور او نور داړتیا وړ توکېو له پاره ډېرې لږې پیسې دي، ویلای شو چې داهیڅ شی نه دي. ددغه څیړنې هدف هم دادی چې په کورنیو او ټولنه کې دمعلولانو وضعیت وڅېړو چې په روښانه توګه دهغوی په ستونزو باندې خبرشو کوم،چې دوی ورسره اخته دي، دغه څیړنه کېدای شي چې دافغانستان دمعلولینو دژوند دښه کېدو په لاره کې مثبت ګام وي، دولتی او غیر دولتي ځانګې کولای شي چې له دغه څېړنوڅخه د لاس ته راغلو معلوماتو څخه په خپلو ورځنیو کارونوکې د یادو شویو کسانو دپروګرام په برخه کې ګټه واخلي.

## دڅیړنې ډول

دایوه ډګریزه څیړنه ده چې په ازاده سیمه کې شوې ده، پوښتنلیکونوباندېله پوښتنو سره په تړلي ډول وار له مخې کوډ (code) پرې وهل شوی وو دمعلولو کسانو ټولنېز او اقتصادي وضعه او هغه نورې ستونزي چې دغه کسان په کورنیو او ټولنه کې ورسره لاس په ګریوان دي، تر غورلاندی نیسي.

## دمعلولیت مفهوم :

دمعلولیت لرونکو کسانو په نړیوال میثاق کې معلولیت داسې تعریف شوی دی:

"معلولیت لرونکې کسان هغه څوک دي چې داوږدې مودې له پاره فزیکې، حسي او یا ذهني نیمګړتیاوي (عارضه) ولري او کېدای شي نوروسره د ګډون په وخت کې دمختلفو خنډونو سره مخ شي او د برابرې داصل پربنسټ د نورو په پرتله له وروسته والی ولري.[۳]

همدارنګه ډول په 1981 کال کې دنړیوال روغتیایي سازمان معلولیت داسې تعریف کړی دي "معلولیت عبارت دی دیوې ټولیزې جسمي، ذهني، ټولنېز او یا دهغوی دترکیبي عواملو څخه چې د یو چاپر ژوند باندې ناوړه اثر اچوي او ددغه کس دطبیعي ژوند په تیرولو کې خنډ ږدی" په دې څیړنه کې هم معلولیت د یاد شوي تعریف پربنسټ تر څیړنې لاندې نیول شوی. معلولیت په مختلفو ډولونو باندې لکه جسمي، ذهني، حرکتي، حسي (دمثال په توګه دلیدلو او اوریدلو) او رواني معلولیتونه دي.

---

[۳]- په دې څیړنه کی هڅه شوی چې دمعلولیت لرونکو کسانو عبارت دمعلولانو او یا دمعلولو کسانو پرځای استعمال شی ځکه چې په قانون کې هم ددغه کسانو دحقونو دامتیاز په برخه کې دمعلولیت لرونکی کسانو عبارت راغلی دی.

په دې څېړنه کې نور عبارتونه چې په تکرار سره راغلي دي،هغه دکورنۍ او ټولنې عبارتونه دي. په دې څېړنه کې کورنۍ هغه کسانو ته ویل کېږی چې دمعلولیت لرونکې کس خپلوان دي او پورته کس دهغوی سره ژوند کوي او د هغوی د کورنۍغړی دی. کېدای شی چې دکورنۍ دډېرو نژدې خپلوانو چې په هغه کې میرمن، میړه، لوڼې او زامن ګډون ولري او یا هم کېدای شې چې نور غړی لکه وروڼه، خوېندې، ورېندار، نیکه، نیا او دکور نور غړي پکې ګډون ولري. دټولنې څخه مطلب (په ځانګړی ډول کله چې دمعلولیت لرونکی کس دستونزو په اړه وی) دکورنۍ نه بهر ټول نور کسان دي، یاني ټول هغه کسان چې معلولیت لرونکی کس دکورنۍ نه بهر دهغوی سره په اړیکې ولري.

## نفوس/ ټولنشمېرنه Population :

دڅېړني په دې شمېر کې ټول هغه کسان راځی چې لږ تر لږه یو ددغو معلولیتونو څخه چې پورته یې یادونه وشوه په کې راشی، په حقیقت کې ټولنشمیرنه هغه کسانوته ویل کېږی چې دڅېړنی په کار دي او دهغوی په برخه کی څېړنه ترسره کېږي. څرنګه چې په ډېرو برخو کې داممکن نه بریښي چې دیوې ټولنی ټول کسان وڅېړل شی نو ددې ټولنی څخه دنمونې په ډول یوڅه ټاکل شوی دي او دهغوی په برخه کې څېړنه شوې ده.

## دشمیرنې نمونه Sample:

لکه څنګه چې پورته وویل شول دټولنشمیرنې دهرکس په برخه کې څېړنه کول په ډېرو برخو کې دمالي ناتوانیو دوخت نه لرلو او دپوره شمیر څېړنکو نه لرلو له امله نه پوره کېږی. نو له همدې له امله څېړنکو دنمونې ډول وټاکه او دغه نمونه به دټولنشمیرنې پرځای وکارول شی، چې دایو مجبوریت دی خو نمونه باید داسې وټاکل شي چې دټولن شمیرنی نمایندګی وکړلای شی تر څو لاس ته راغلی پایلي دټولنی ټولیزه برخه په برکې ونیسیې دمثال په توګه که موږ دټولنې دټولو معلولیت لرونکو کسانو حالت دهغه کسانو څخه وټاکو کوم چې دکابل په ولایت کی استوګنه لری نو وروسته بیا نشو کولای چې هغه دټول افغانستان دمعلولیت لرونکو کسانو له پاره وکاروو، ځکه هغه محیطی شرایط چې په کابل کی شته دنورو سیمو (بامیان، غور، کندهار) سره ډېر توپیر لري لکه دمعلولیت لرونکو کسانو له پاره دکارکولو زمینه، رغتیایی او ښوونیزی اسانتیاوی او نور توپیرلری، نو ویلای شو چې دغور ولایت دمعلولیت لرونکو کسانو ستونزی دکابل ولایت دمعلولیت لرونکو کسانو سره یو شانی نه دی.

ددغه ټکو په نظر کې نیولو سره داڅېړنه مختلفو برخو ته لکه؛ فرهنګ، ژبه، او قوم داسې ټاکل شوي دي چې دټولنشمیرنې دڅېړنې وړ وي، او ترټولو لویه نمونه ممکن دمالی وس او د وخت درلودلو سره ټاکل شوي وي.

څرنګه چې 1500 سوال پاڼې په 14 مختلفو ولایتونو کې ډکې شوې او په دې څیړنه کې په ژوره توګه څیړل شوی دی. برسیره پر دې نوری سوال پاڼی ترتیب شوی دي چې دمعلولیت لرونکو کسانو کورنیو او دمعلولیت لرونکو کسانو پیژندونکو ته هم ورکړل شوی دی چې هغوی ډکی کړي دي چې دمعلولیت لرونکو کسانو دحالت په برخه کې خپل نظر ورکړی. خو په دې څیړنه کی ډیره برخه پخپله دمعلولیت لرونکو کسانو ځواب ته ټاکل شوې ده ځکه چې له هرچا څخه ددی پخپله دخپلو ستونزو ډیره ښه نمایندګی کولای شي.

## دڅیړني سیمه:

دپوښتنلیکونو دډکولو له پاره 14 ولایتونه وټاکل شوه. هڅه شوې ده چې دغه ټاکني به دټول افغانستان دمعلولیت لرونکو کسانو نماینده ګي وکړي. دغه ولایتونه ځکه ټاکل شوی دي چې هغه دژبې، قوم او فرهنګ له پلوه دافغاني ټولنې نمونه جوړوي، ځینی لوی ښارونه لکه کابل، هرات، مزارشریف هم دمختلفو قومونو داوسیدلو له له امله دپورته اصل مراعات کوي، ټاکل شوی ولایتونه دادي: کابل، هرات، بلخ، کندهار، ننګرهار، هلمند، لغمان، پکتیا، پروان، تخار، بادغیس او جوزجان.

## دمعلوماتو راټولولو ډول:

په دې څیړنه کې دمعلوماتو راټولولو له پاره ددری ډوله سوال پاڼو نه کار اخیستل شوی دی.

1. په مستقیمه توګه باندی سوال کونکو معلولیت لرونکو کسانو ته پوښتنلیکونه ورکړي دي او هغوي پخپله دغه پوښتنلیکونه ډک کړي دي او له هغه وروسته تحلیل او تجزیه شوي دي.
2. دمعلولیت لرونکو کسانو دکورنۍ له پاره پوښتنلیکونه: دکورنۍ دیوه غړي له خوا څخه دا پوښتنلیک داسی ډکیږې چې دمعلولیت لرونکې کس وضعه په کورکې څیړل کیږې او وروسته بیا تحلیل او تجزیه صورت مومي.
3. دهغه کسانو له خوا ځانګړې پوښتنلیک ډکیږي کوم چې دمعلولیت لرونکو کسانو په اړه باندي معلومات او نظرونه لري.

هغه پوښتنلیکونه چې دمعلولیت لرونکو کسانو دکورنیو دغړو او دهغه کسانو له خوا ډکې شوي دي کوم چې دهغوې په اړه نظر او فکر لري دګټې وړ معلومات ترلاسه شوی دي. څرنګه چې معلولیت لرونکی کسان دخپل ژوند په اړه اوستونزو باندي تر بل هرچا ډیر معلومات لري نو هڅه شوې ده چې هغه پوښتنلیکونه چې ددوی له خوا پخپله ډک شوي دي پر هغه باندي تکیه او ټینګار وشي.

چې په دې څیړنه کې هغوی ته ځواب باید ورکړل شي دلته راوړو:

الف: په افغانستان کې معلولیت لرونکي کسان دکومو ټولنیزو ځانګړتیاو لرونکي دي؟
ب: په کورنیو او ټولنه کې معلولیت لرونکي کسان دکومو ستونزو سره مخامخ دي؟
ج: آیا هغه ټولنیزي ځانګړتیاوي لکه لوست، بوختیا او هغه ستونزي چې معلولیت لرونکې کسان ورسره مخامخ دي دهغوی ترمنځ کوم اړیکې شته؟

## دخیړني نه راپیدا شوی شیان:

په دې برخه کې هغه پایلې او معلومات راوړو کوم چې دخیړني او داطلاعاتو لاس ته راوړلو وروسته موږ پیدا کړي دي، اشاره ورته کوو.

## دمعلولیت ډول:

دخیړني له مخي لاندي جدول دځواب ورکونکو له خوا دمعلولیت ډول راښيي.
لکه څنګه چې له پورته جدول نه ښکاري په پښو کې معلولیت لرل دنورو په پرتله دډېرو نه ډېر دی (50.4٪) په داسي حال کې چې دلاسونو هغې 11.4٪ او سترګې 10.4٪ په دوهمه او دریمه درجه کې راځي.



دبېلګې په توګه ایا دپښو دمعلولیت علتونه له معلولیت پورې تړلي دی او که څنګه ؟ نو دغه ټکی یانی [4] ورته اړیکې لرل (یا یو دبل سره تړلی) دمعلولیت دعلت په ډول باندي وعمرجول شي.

## لومړی جدول:

دمعلولیت دسببونو ورته اړیکې لرل Correlation یا یو دبل سره تړلي په معلولیت لرونکو کسانو کې

| دمعلولیت څخه متاثر شوی غړی | جګړې | ترافیکی پېښی با هم شخصي جګړې | نوری پېښی | ټوله شمیر | په سلو کې |
|---|---|---|---|---|---|
| پښې | 72.65 ٪ | ٪5.39 | ٪21.96 | 501 | ٪100 |
| لاسونه | 49.09 ٪ | ٪4.55 | ٪24.36 | 110 | ٪100 |
| لاس او پښې | 62.14 ٪ | ٪5 | ٪32.86 | 140 | ٪100 |
| سترګی | 50.50 ٪ | ٪3.96 | ٪45.54 | 101 | ٪100 |
| غوږونه | 13.64 ٪ | ٪9.09 | ٪77.27 | 22 | ٪100 |
| فلج | 37.35 ٪ | ٪9.64 | ٪53.01 | 83 | ٪100 |

پورته جدول رابښیي چې دمعلولیت لرونکو کسانو دمعلول شوو غړو او دهغه دسببونو تر منځ مهمی ورته اړیکی شته. [5]، لکه څنګه چې په پورته جدول کې ښودل شوی دی، هغه معلولیت چې دجګړې له امله پیښ شوی

[4]- ورته اړیکی لرل (یو دبل سره تړل) Correlation په دې شمیرنه کې ددغه لغات نه په همدې مانا ګټه اخیستل شوې ده نو دلته دغه لغات یو دبل سره تړلي استعمال شوی دی.

[5]- په دې څېړنه کې دبدلیدونکو Variables ترمنځ اړیکی د k-2 ازموینی پراساس عمرجول شوي دي، k-2 هغه ازموینه ده چې دبدلیدونکو ترمنځ ورته اړیکو اهمیت ټاکې او یوازی هغه ورته اړیکی رابښي چې د k-2 دآزموینی دشمیر له مخی ښودل شوي دی، ددوو بدلیدونکو تر میان اړیکی او ورته اړیکی هغه وخت مهمی دی چې که ددوی اړیکې تصادفی وی بیا هم له 5٪ څخه لږ وی یا دهغه ارزښت لږ او یا مساوي په 50.0٪ ښودل شوی وی.

دی دنورو ټولو څخه ډیر دی. دمثال په ډول دجګرې له امله دپښو په برخه کې معلولیت 65.72٪ دی او دا په جدول کې دنورو په پرتله ډیر معلولیت دی. ددغه لاس ته راغلو معلوماتو څخه څرګندیږي چې د دپښو معلولیت ډیر ځله دماین دچاودیدلو څخه پیښیږي. په داسي حال کې نوري پیښې لکه طبیعی پیښې، دزیږوني معلولیتونه او دناروغیو څخه پیښ شوي معلولیت ډیر ځله په سترګو، غوږونو، هډوکو راوتلو، او یا شل کېدو سبب کېږي، نه د لاس او پښو ډیرو کسانو دسوال په ځواب کې ویلي دي، چې دافغانستان ددری لسیزو جګړو دوی ته معلولیت پیداکړی دی او دغه پېښې ددوی دپښو او لاسونو دمعلول کېدو سبب شوي دي نو ویلای شو،چې دپښو او لاسونو معلولیت ډیر ځله دماین دچاودنې څخه پیښ شوي دې، او یا هم دهغو توکو له امله پیښیږي چې د جګړې پاتې شوي او ناچاوده پاتي شول.[٦]

## دځواب ویونکو عمر او جنسیت:

دهغه 1082 معلولیت لرونکو کسانو څخه چې پوښتنې شوي دي 49.8٪ یې د 35 کلونو څخه ډیر عمر لاره، او 31.1٪ بیا د 19 څخه تر 34 کلونو پوري وه، نو په دې ډول دځواب ورکونکو ډیره برخه 80.9٪ تر 18 کلنې ډیر عمر لاره. دجنسیت له مخې 78٪ دځواب ورکونکو څخه نارینه وه او 21.2٪ بیا ښځې وې، په لاندی جدول کې به وګورو، چې په هر ګروپ کې دنارینه وو شمیر دښځو په پرتله ډیر دی.




## مدني حالت:

دځواب ورکونکو ډیره برخه واده لري 64٪ او 31٪ یې مجردان دي او 3.7٪ یې کونډې یا کونډ کسان جوړ وي.

ددې ترڅنګه ځینې معلولیت لرونکي کسان بیا په کورنۍ کې دپلار او یا مور مقام لري (ددغه کسانو شمیر په ضمایمی جدول کی ښودل شوی دي.

---

[٦]- نور پیښي په جدول کی روښانه شوي دي.

شمیره جدول) معلولیت لرونکی کسان نه یوازي دا چې په کورنیو کې دمور او پلار دنده لري بلکې دهغه تر څنګه ځینی یې بیا دیوې کورنۍ پالنه هم په غاړه لري، چې دغه څه دمعلولیت لرونکو کسانو فعاله ونډه په کورنیو کې راښیي. څه نا څه 65٪ ځواب ورکونکي دیوه نژدي اړیکو کور او یا هم دلوی کور پالنه په غاړه لری، څرنګه چې معلولیت لرل په ډیرو برخو کې ځینی محدودیتونه زیروي په ځانګړی توګه دکار په برخه کې او د ورځني اجراآتو په برخه کې ورسره مخامخ کیږی، نو نه یوازی دا چې معلولیت لرونکي کس دستونزو سره مخامخ کیږي، بلکې دهغه کورنۍ هم باید دغه ستونزې وګالې، په ځانګړي توګه که معلولیت لرونکی کس دیوې کورنۍ پالنه په غاړه ولري. له دې ځیړنی نه دا څرګنده شوه ډیره برخه دمعلولیت لرونکو څخه دخپل کور د اعاشه کولو (مړولو) مسوولیت هم لری. نو آیا معلولیت لرونکی کسان دکومو ستونزو سره مخامخ دي او کوم عوامل (سببونه) په مستقیمه یا هم په غیر مستقیمه توګه باندي دهغوی پر کورنیو باندی ناوړه اغیزی کوي؟ دا هغه سوالونه دي چې ددغه څیړنې په بهیر کې کېږی خو ددی بحث تر مخی به دمعلولیت لرونکو کسانو دزده کړی پر سطحې باندی یو څو کرښی ولیکو.

## دمعلولیت لرونکو کسانو دلوست وضعیت:

ددې څیړني څخه راپیدا شوی شیان راښیي چې دشمیر دپرتله کولو له له امله تقریباً دمعلولیت لرونکو کسانو دلوست او نالوست کچه سره مساوي ده. لکه چې ځواب ورکونکو ویلی دي چې په سلو کې 43.2٪ لوستي او 55.9٪ بیا نالوستي دي، هغه برخه چې ځان یې لوستی ښودلي دی 55.9٪ دخپل لوست سطحه یې نه ده ښودلې 19.6٪ یې ویلي دي چې لومړنۍ زده کړه یې کړیده او 16.6٪ یې ویلي دي چې لیسه یې ویلې ده او 1.7٪ ویلي دي چې هغوی لوړی زده کړي ترسره کړي دي او پاته نور یې چې لوست یې کړي دی وایې چې په ځانګړو دیني مدرسو کې یې زده کړه کړې ده. دا په داسی حال کې ده چې دافغانستان په ټولنه کې دلوست کچه په سلو کې 28٪ ده. [٧]، نو په دی ډول دافغانستان دټولیزې سطحې پرکچه باندي دمعلولیت لرونکو کسانو دلوست سطحه لوړه ده.

ددې موضوع دروښانه کولو له پاره په لاندي جدول کې دځواب ورکونکو عمر او جنسیت روښانه کوو.

## دوهم جدول

| دنارینه وو دعمر او سواد ورته اړیکی (سره ترړني) | | | |
|---|---|---|---|
| عمری ډلی | لوستی | نالوستی | ټوله |

٧- NRVA 2005

| | | | |
|---|---|---|---|
| د 11 کلونو نه کښته | 8 | 6 | 14 |
| د 12 څخه تر 18 کلونو | 66 | 34 | 100 |
| د 19 څخه تر 34 کلونو | 123 | 143 | 266 |
| د 35 کلونو څخه پورته | 180 | 371 | 451 |
| ټول شمیر | 377 | 454 | 831 |

| دښځو دعمر او سواد ورته اړیکی (سره تړني) | | | |
|---|---|---|---|
| عمري ډلی | لوستی | نالوستی | |
| د 11 کلونو نه کښته | 6 | 8 | 14 |
| د 12 څخه تر 18 کلونو | 41 | 18 | 59 |
| د 19 څخه تر 34 | 24 | 42 | 66 |
| د 35 کلونو نه پورته | 10 | 72 | 82 |
| ټول شمیر | 81 | 140 | 221 |

له پورته جدولونو څخه دا څرګندیږي چې دنارینه وو او ښځو دلوست او عمر تر میان ورته اړیکې موجودې دي. دا ورته اړیکې په دې ډول دي چې په کښته عمر کې دنالوستو کچه دسلو په معیار لږ ده او کله چې عمر ډیریږی هلته بیا دنالوستو شمیر کچه ترلوستو ډیریږي. دغه ورته اړیکی ددواړو ګروپونو یانی نارینه او ښځو له پاره صدق کوی، ژوري څیړني داهم څرګندوي چې دلوست او جنسیت ترمنځ هم ورته اړیکی وجود لري دمثال په توګه په نارینه ووکې دنالوستو کچه تر ښځو لږده، نو له دې څخه دا څرګندیږي چې دمعلولیت لرونکو کسانو دلوست سطحه دهغوی په جنسیت او عمر پوری اړه  لري. دلوست او بدلونونو ترمنځ اړیکی لکه بوختیا په راتلونکې څیړنو کې تربحث او غور لاندي نیول کیږي خو تر هغه دمخه دمعلولیت لرونکو کسانو اقتصادي وضعه څیړو.

خو دلوست لرل د اوسیدلو په سیمه او ولایتونو پوری هم تړلي دي، لکه څنګه چې معلومیږي په ځینو ولایتونو کې دلوستو معلولیت لرونکو کچه ترنورو لوړه ښکاري. بلخ د 69.44٪ دلوستو معلولیت لرونکو کسانو په لرلو سره دافغانستان دنورو ولایتونو په پرتله ترټولو دلوستو لوړه کچه لري. په همدې ډول کابل 63.83٪ ، کندز 46.15٪ او هرات 45.12٪ یو په بل پسی راځي (دنورو معلوماتو له پاره دضمایمو دوهم جدول وګوری)

# اقتصادي وضعيت:

داقتصادي وضعي دڅېړلو له پاره د بوختيا، ورځنی عايد او دمعلوليت لرونکو کسانو داقتصادي وضعی څخه معلومات ترلاسه شوي دي.




لکه څنګه چې معلومېږي دمعلوليت لرونکي ډېر کسان بيکاره دي او دڅواب ورکونکو ځينی يې کارونه لري، آزاد بوختيا لرل تر رسمی بوختيا ډېر دي دمثال په ډول 21.9٪ معلوليت لرونکې کسان آزاد بوختيا لري، 5.5٪ دولتی کار کونکې او 3.8٪ دموسساتو دويندويانو دنده لري، دپورته کسانو څخه 5.1٪ يې ښوونکی دي.[8]، خو ولی معلوليت لرونکي کسان بيکاره دي؟ آيا معلوليت ددوی دبيکارۍ سبب شوی دی؟ يو بل سوال چې ځواب ورکونکو هغه ته ځواب ورکړی دی 38.9٪ يې ويلی دي چې معلوليت ددوی دبيکاری سبب شوی دی او 12.5٪ دبوختيا نشتوالي او بيکاری دخپل کار نلرلو علت ښودلی دی.[9]

دکار لرل او بيکاري نشي کولای چې دمعلوليت لرونکو کسانو اقتصادی وضعيت په روښانه توګه راوښيې، مياشتنی عايد هغه څه دی چې دمعلوليت لرونکو کسانو اقتصادی وضعيت موږ ته څرګندوي.

## دريم جدول:

| مياشتنی عايد | په سلو کې | دځواب ورکونکو شمير |
|---|---|---|
| 1000 او دهغه نه لږ | ٪25.4 | 271 |
| د 1100 څخه تر 3500 پوری | ٪26.3 | 281 |

[8]- دځواب ورکونکو څخه 59.2٪ يې خپل دبوختيا په برخه کې څه نه دی ويلی.
[9]- 42.9٪ معلوليت لرونکو کسانو دخپل بيکاری سبب نه دی ښودلی.

| | | |
|---|---|---|
| د 3500 څخه تر 10000 پورې | ٪4.3 | 46 |
| د 10500 څخه تر 19000 پورې | ٪0.7 | 8 |
| 20000 او لوړ | ٪0.5 | 5 |
| بیله کوم عاید نه | ٪42.8 | 457 |
| ټول شمیر | ٪100 | 1068 |

لکه څنګه چې دپورته جدول نه څرګندیږي ٪51.7 معلولیت لرونکي کسان دمیاشتني نه د 3500 افغانیو څخه لږ عاید لري او ډیر لږ کسان یې بیا څه اندازه ډیر عاید لري. دا په داسي حال کې ده چې ٪42.8 کسان هیڅ میاشتنی عاید نلري. څرنګه چې دځواب ورکونکو یو ګروپ ماشومان جوړوی نو ممکن دغه ګروپ هم په هغه کسانو کې راشي چې میاشتنی عاید نلري. خو په واقعیت کې دځواب ورکونکو څخه هغه کسان چې عمر یې د 18 کلونو نه کښته وو یوازې ٪6.65 دی، نو ویلای شو چې دبیکارانو لوی ګروپ لویان دی. آیا دکار لرل او میاشتنی عاید دمعلولیت لرونکي کس داقتصادي وضعې دښه والي په مانا دي؟ ځینی معلولیت لرونکي کسان په داسې کورونو کې ژوند کوي چې دغړو شمیریې د6 کسانو څخه ډیر دی.

په داسی حال کې چې دمعلولیت لرونکي کس میاشتنی عاید لږ دی، خو دهغه دکورنۍ دغړو شمیر ډیر دی. نو دتعجب خبره نه ده، چې هغوی دخپل اقتصادي وضعی نه شکایت کوي لکه څنګه چې معلومیږي ٪72.6 معلولیت لرونکي کسانو دخپل کورنیو اقتصادي وضعیت کمزوری بولي. دکورنیو دغړو دشمیر زیاتوالی او بیکاري پر اقتصادی کمزورتیا نور هم زور اچوي.

یو بل څه چې په دې څیړنه کې څیړل شوي دي هغه دترانسپورټی وسیلو مالکیت دی. دا څه په دې خاطر ټاکل شوی دي، چې هغه کسان چې دپښو له خوا معلولیت لرې په ډیرو برخو کې دې ته اړ شوي دي چې ترانسپورټی وسیله ولري، دهغه معلولیت لرونکو کسانو څخه چې دپښو ستونزی لري یوازی ٪4.7 یې ارابه لرونکې څوکۍ لري، ٪6.8 یې دلګړو څخه ګټه اخلی خو پاته کسان یې هیڅ ډول وسیله نلري چې ګټه ترې واخلي.

## په کورنیو او ټولنه کې دمعلولیت لرونکو کسانو ستونزې:

ددغې څیړنې یو هدف دادی چې په ټولنه او کورنیو کې دمعلولیت لرونکي کس ستونزې ولټول شي. آیا ددغه کسانو سره په کورونو او ټولنه کې مناسب چلند کیږي او که نه؟ او که معلولیت لرونکي کسان ځورول کیږی نو آیا دغه ځورول دټولنی له خوا دي او که دکورنیو له خوا؟

## په کورنیو کې ستونزي لرل:

ددغه څیړني څخه لاس ته راغلي معلومات رابسي چې دمعلولیت لرونکو کسانو کورنۍ 91.35٪ یې دخپلو معلولیت لرونکو غړو سره سمه وضعه کوي او هغوی تری راضي دي، خو یوازي 8.65٪ دځواب ورکونکو څخه دخپلو کورنیو دوضعی څخه ناراضیتوب ونبوده. په داسې حال کې چې دمعلولیت لرونکو کسانو ډیره برخه په کمزوري اقتصادي وضعیت کې ژوند کوي، هغوی بیکاره دي او دکور دغړو شمیر یې ډیر دی، خو بیا هم دوی دخپلې کورنۍ دغړو دچلند څخه راضي دي، په دې څیړنه کې دمعلولیت لرونکو کسانو په اړه یو بل سوال هم شوی دی چې په ټولنه او کورنیو کې دوی دکوم ډول تاوتریخوالی سره مخامخ دي؟ او هم دهغه معلولیت لرونکو کسانو شمیر چې دخپلو کورنیو دوضعی نه شکایت لري له هغو چې راضي دي ډیر لږ دی، ځینی یې دجسمي تاوتریخوالی، ځینی یې دخبرو په وسیله او نور یې بیا دکورنیو لخوا دازادۍ دسلبولو شکایت لري.

## څلورم جدول: په کورنیو کې دمعلولیت لرونکو کسانو ستونزی

| هغه کورنۍ چې فزیکی تاوتریخوالی کوي | شمیر | په سلو کې |
|---|---|---|
| وهل، ټکول | 39 | ٪27.1 |
| په لرګی یا ډبره وهل او ویشتل | 71 | ٪49.3 |
| دکالیو څیرول او دشخصی توکو ماتول | 10 | ٪6.9 |
| حبس او سوځول | 8 | ٪5.6 |
| نور ټوله ډولونه | 16 | ٪11.1 |
| ټول شمیر | 144 | ٪100 |

| هغه کورنۍ چې لفظي (خبرو) تاوتریخوالی کوي | | |
|---|---|---|
| سزا ورکول | 23 | ٪6.3 |
| توهینول او پیغور ورکول | 244 | ٪67.0 |
| توجه او پام نه کول | 97 | ٪26.6 |
| دټولو شمیر | 364 | ٪100 |

| هغه کورنۍ چې شخصي آزادۍ سلبوي | | |
|---|---|---|
| په ټولیزو ناستوکې دګډون څخه منع | 114 | ٪70.8 |

| | | |
|---|---|---|
| کول | | |
| ددوستانو کورونو ته نه پرېښودل | 15 | ٪9.3 |
| دمیلمستیاو ته نه پرېښول | 32 | ٪16.9 |
| ټول شمیر | 161 | ٪100 |

لکه څنګه چې دپورته جدولونو څخه څرګندیږي دمعلولیت لرونکو کسانو ډېره برخه دلفظی (خبرو) دتاوتریخوالي څخه شکایت لری، او پس له هغه دفردی ازادیو سلبول او فزیکی تاوتریخوالی ځای نیسی. او په فزیکی تاوتریخوالی کې بیا په لرګیو وهل او په ډېره ویشتل ډېر پیښیږي. په همدې ډول توهینول او پیغور ورکول یو دهغه ډېرو تاوتریخوالی څخه دي چې معلولیت لرونکې کسان ورسره مخامخ دي.

په ځینو برخو کې کورنۍ دشخصي یا فردي ازادیو دسلبولو سبب هم ګرځي، لکه څرنګه چې ځواب ورکونکو کسانو ویلي دي چې ددوي کورنۍ ددوی دګډون څخه په ټولیزو ناستو او مجلسونو کې شرمیری نو ځکه هغوی ته دګډون اجازه نه ورکوي.

معلولیت لرونکې کسان په سیمه او ټولنه کې هم دتاوتریخوالی سره مخامخ کېږی چې اوس به موږ دغه موضوع تر اوردې څېړني لاندی ونیسو.

## په ټولنه کې دمعلولیت لرونکو کسانو ستونزي:

دکورنیوستونزود لرلو په پرتله باندې معلولیت لرونکی کسان په ټولنه کې ډیرې ستونزي لري، دغه توپیر په لفظي برخه کې ډېر دی. دمثال په توګه 808 کسانو په ټولنه کې دلفظي تاوتریخوالي نه شکایت کړی دی، په داسي حال کې چې یوازی 364 معلولیت لرونکو کسانو پخپلو کورنیو کې دلفظي تاوتریخوالی شکایتونه لرل، په ټولنه کې دلفظي تاوتریخوالی ډولونه عبارت دي له: دمعلولیت لرونکی کس توهین او پیغور ورکول، او بیځایه ترحم.

ددې ترڅنګه معلولیت لرونکي کسان په ټولنه کې دفزیکي تاوتریخوالي سره هم مخامخ دي چې دهغوی په سر کې په لرګی باندي وهل او په ډېره باندي ویشتل ډېر دي. چې دغه ډول تاوتریخوالی دکورنیو دغړو له خوا څخه هم ترسره کېږي. او دمعلولیت لرونکی کس توهینول او یا پیغور ورکول یو بل دهغه تاوتریخوالی څخه شمیرل کېږی چې له نورو څخه ډېر ورکول کېږي. ددې ترڅنګه په ځینو وختونو کې معلولیت لرونکی کس ته اجازه نه ورکول کېږی چې په ټولنه یا هم په ټولیزو ناستو کې ګډون وکړي، ځینو داهم ویلی دي چې دزیارت تلوته هم هغوی ته اجازه نه ورکول کېږی، خو دغه څه دومره ډېر نه دي.

## پنځم جدول

په ټولنه کې دمعلولیت لرونکو کسانو ستونزي

| په ټولنه کې دفزیکې تاوتریخوالي مسوول | شمیر | په سلو کې |
|---|---|---|
| وهل، ټکول | 25 | ٪13.8 |
| په ډبرو یاهم په لرګیو باندي وهل | 90 | ٪52.5 |
| دمعلولیت لرونکې کس ته دتوکو غورځول | 61 | ٪33.7 |
| | | |
| ټول شمیر | 181 | ٪100 |

دلفظی تاوتریخوالی کچه په ټولنه کې

| | | |
|---|---|---|
| سپلکول او ریشخند وهنه | 453 | ٪56.1 |
| پیغور ورکول | 254 | ٪31.4 |
| بي ځایه ترحم کول | 101 | ٪12.5 |
| ټول | 808 | ٪100 |

په ټولنه کې دفردي ازادۍ سلبول

| | | |
|---|---|---|
| دسیمې او ټولیزو ټولنوته نه پریښول | 107 | ٪92.2 |
| دزیارتونو ته نه پریښول | 9 | ٪7.8 |
| ټول | 116 | ٪100 |

دپورته شمیرونو څخه څرګندیږي، چې ډیر شمېر معلولیت لرونکې کسان دټولنېز ګډون څخه شکایتونه لري چې دغه موضوع دتشویش وړ ښکاری. په ټولنه کې دیو معلولیت لرونکې او دنه معلولیت لرونکې کس حقونه یو شان دي. معلولیت لرونکې کسان په ټولنه کې فعاله ونډه اخیستلای شي ځکه چې معلولیت دناتواني مانا نه لری، دغه خیړني دا روښانه کړیده چې په ټولنه کې ډیر معلولیت لرونکې کسان فعاله ونډه لري او ځینی یې دخپل کورنۍ له پاره دعاید راوړلو مکلفیت لري. په ټولنه کې دمعلولیت لرونکو کسانو دلوست کچه ترهغوکسانوچې معلولیت نه لري  لوړه ده. نو ځکه معلولیت لرونکې کسان په ټولنه کې فعاله ونډه لري او دلوست کچه یې لوړه ده.دمعلولیت لرونکو کسانو سپکول او پیغور ورکول او یا هم دهغوی سره ناوړه چلند کول دټولنی دفرهنګي سطحي ټیټوالی راښیي چې دلته د ولس دپوهي سطحه ټیټه ده.

په ښولنه کې دمعلولیت لرونکو کسانو دفزیکي او لفظي تاوتریخوالي ترځنګه 116 معلولیت لرونکو کسانو داهم ویلی دي چې دپورته تاوتریخوالی ترځنګه ددوی فردی ازادی (ښولیزو ښولنې ته نه پریښودل او یا هم دزیارتونو دمراسمو څخه منع کول) سلبول هم دوی ځوروي. که څه هم ددغه کسانو شمیر ډیر نه دي خو بیا هم دا ویلای شو چې په ښولیزه ښولنو (مجلسونو) او زیارتونو کې دمعلولیت لرونکو کسانو له پاره اسانتیاوي په نظر کې نه دي نیول شوی، دمثال په ډول که دیوې ماڼۍ په دوهم پوړ کې کومه ښولنه یا میلمستیاوي او که داماڼۍ داسی اسانتیاوی ونه لری چې ارابه لرونکې څوکۍ دی هلته وخیژي نو معلولیت لرونکې کسان نشي کولای چې ددغه ماڼۍ نه ګټه واخلی، که چېری په ښولنو کې دمعلولیت لرونکو کسانو د نه ګډون سبب دماڼیو په مخ کې داسانتیاوو نشتوالي وي هغه جلا خبره ده او که چېري ددوی معلولیت ددی سبب وګرځي چې دوی دمجلسونو ته میلمانه نه کړل شي او پلمې رامینځ ته شي نو هلته ویلای شو چې دا عمل غیر انساني عمل وو او دافغانستان او اسلامی فرهنګ پرخلاف عمل شوی دی. دافغانستان په اساسي قانون کې هر ډول تبعیض منع شوی دی. داساسی قانون په دوه ویشتمه ماده کې راغلي دي "دافغانستان داتباعو ترمینځ هر ډول تبعیض او امتیاز منع دی"

آیا په کورنۍ او ښولنه کې دمعلولیت لرونکو کسانو هغه ستونزي چې دوی ورسره مخامخ دي ددوي په معلولیت پوری تړلي دی؟ داسی هیلی کېږي چې عصبی او رواني معلولیت لرونکې کسان ترنورو ډیر دپیغور او توهین سره مخامخ کېږی. خو کله چې دورته والو اړیکو ازموینه ترسره کېږی چې دمعلولیت د ډول او هغه ښولنېزی ستونزي چې معلولیت لرونکیکسان ورسره مخامخ دي لکه پورته چې مو ولیکل ترمینځ یې کومې اړیکی نشته. داهم دیادونی وړ ده چې ولیکو چې دمعلولیت لرونکو کسانو کورنیو 30.4٪ ویلي دي چې ددوی کورنۍ هم دمعلولیت لرونکې کس له امله توهین شوې ده. په داسی حال کې چې ډیر معلولیت لرونکی کسان دخپلو کورنیو دغړو دچلند څخه راضي ښکاری خو دغه ډله بیا دښولنی دچلند څخه ناراضي ښکاري. په هغه سوال کې چې دکورنیو او ښولنی دچلند وضعه پرتله کېدل دځواب ورکونکو 83.22٪ یې دښولنی دچلند څخه ناراضه ښکاریدل په داسي حال کې چې 32.7٪ یې بیا دخپلو کورنیو دچلند څخه شکایت کاوه. په ښولیزه توګه لفظی (ژبنی) تاوتریخوالی په ښولنه کې تر نورو ډیر استعمالیږی.

داهم باید ووایو چې دمعلولیت لرونکو کسانو ستونزي یوازی په ښولنه او کورنۍ کې پای ته نه رسیږی بلکې دهغه ترځنګه نوری ستونزی لکه روغتیایې خدمتونو ته لاسرسی او دانساني او ښولنېزو مرستو دنشتوالي سره هم مخامخ کېږی چې په لاندی برخه کې به پرهغو څه ولیکو.

## روغتیایې او ټولنېز خدمتونه:

دپوښتونکو څخه یو څه تر نیمایي ډیرو یې 51.48٪ ویلي دی چې دوی روغتیایي خدمتونو ته لاسرسی نلري که دمعلولیت لرونکو کسانو شمیرینه ترسره شي نو دا به څرګنده شی، چې ددغه کسانو نیمایي شمیر یې روغتیایي خدمتونو ته لاسرسی نه لری. هیوادوالو ته د روغتیایي خدمتونو اسانتیاوو برابرول دافغانستان دحکومت دنده ده.

ددغه امر په اجرا کې ددولت مکلفیت په نړیوالو میثاقونو کې هم راغلی دي. کله چې دمعلولیت لرونکو کسانو دنړیوال میثاق په حقونو کې په 25 ماده کې توصیه شوی ده چې دولتونه باید دمعلولیت لرونکو کسانو دهوسایني له پاره هڅي وکړي او په ورډیا توګه دهغوی اړتیاوی رپوره کړي. خو ځواب ورکونکو ویلی دي چې هغوی دغیر دولتي موسسو څخه روغتیایي مرستی ترلاسه کوي او یوازی 12.14٪ یې ددولتي روغتیایي خدمتونو څخه ګټه ترلاسه کوي. 71.45٪ یې شخصي لګښت کوي او 16.04٪ دټولنېزو موسساتو څخه ګټه ترلاسه کوي. له دې ځوابونو څخه څرګندیږی چې د معلولیت لرونکو کسانو روغتیایي خدمتونه په شخصي لګښتونو باندې کېږئ، په داسی حال کې چې ددغه کسانو اقتصادی وضعه ډیره کمزورې ده.

دمعلولیت لرونکو کسانو دجنسیت، لوست، بوختیا او اقتصادي وضعي دبدلونونو او ستونزو تر مینځ اړیکی:

هغه ستونزي چې معلولیت لرونکي کسان ورسره مخامخ دي، چې دټولنېزو عناصرو اوبدلونونو سره اړیکې لري او ددغې ستونزې ریښې له نورو مسائلو پورې تړلي دي او که هغه ته لازمه توجه ونشي، نو که هرڅومره هڅي دهغه دلیری کولو له پاره وشی ممکن کومه ګټه ونکړي او دناکامی چانس یې ډیر دي. په کار دي، چې لومړی دمعلولیت لرونکو کسانو ستونزي وڅیړل شي، چې په کومو بدلونونو پوري اړه لري.

## 1ـ جنسیت:

جنسیت یو دهغه بدلونونکو څخه دی، چې دهغه پراساس په ټولنه کې دښځو او نارینه وو تر مینځ توپیرونه او تبعیضونه پیښیږي. معمولا دافغانستان ټولنه یو نرواکه (نر پاچاهي) ټولنه ده او پر لرغونو دودونو باندې ولاړه ده، او په ډیرو برخو کې ښځې د تبعیض سره مخامخ کېږي. نو له دې له امله جنسیت ددې سبب ګرځي چې معلولیت لرونکې ښځې او نارینه دعاید پیداکولو په برخه کې یو دبل سره توپیر ولري او هم ددوي په برخه کې د ټولنې چلند یو دبل سره فرق کوي. لکه چې په دې څیړنه کې ښکاره شوي ده په ډیرو برخو کې ښځې د نارینه وو په پرتله دبیکاری سره مخامخ دي. شپږم جدول راښیي چې دښځو په ګروپ کې دبیکاري کچه تر نارینه وو ډیره ده (مطلب معلولیت لرونکی ښځي او نارینه دی) او دغه ورته تړلي شمیرني

مانا لرونکې ورته تړلي شميرني دي، يا ني دغه ورته تړني دبيکارى او جنسيت بدلونونکى پر اساس ديو چانس پراصل نه دي جوړ شوي.
جنسيت دلوست سره هم اړيکى لري چې دا موضوع ترمخه هم تر بحث لاندي نيول شوى دى څرنګه چې لوست او بوختيا هم يو تر بله تړلي دي نو دا د حيرانتيا ځاى نه دى چې د جنسيت کچه دعايد په لاس ته راوړلو باندي هم اغيزه کوي.

## شپږم جدول

دجنسيت مياشتنى عايد اود بوختيا ترمينځ ورته اړيکې

| بوختيا | نارينه | ښځي | ټول شمير |
|---|---|---|---|
| بيکاره | ٪57.5 | ٪70.9 | 589 |
| بوختيا لرونکي | ٪42.5 | ٪29.1 | 389 |
| ټول شمير | ٪100 | ٪100 | 978 |
| مياشتنى عايد | | | |
| بي له عايده څخه | ٪35.9 | ٪67.4 | 451 |
| 1-999 | ٪28.1 | ٪15.6 | 280 |
| 1000 -3499 | ٪30.1 | ٪12.5 | 46 |
| 3500 -9999 | ٪4.9 | ٪2.2 | 8 |
| 10000 -18999 | ٪0.8 | ٪0.5 | 5 |
| 19000+ | ٪0.1 | ٪1.8 | 270 |
| ټوله شمير | ٪100 | ٪100 | 1060 |

په ټوله شميره کې دښځو مياشتنى عايد تر نارينه وو لږ دى،چې دا پخپله ددې ښودنه کوي چې معلوليت لرونکى ښځې ترنارينه وو په نامطلوب (بد) حالت کې ژوند کوى ياني دسواد سطحه يې لږ ده او دبيکارى کچه يې ډيره ده. ديادوني وړ ده چې په ټولنه کې دجنسيت په برخه کې دښځي او نارينه وو په باب چلند توپير کوي په دې مانا چې معلوليت لرونکې نارينه دکور نه دباندي تر معلوليت لرونکو ښځو ډير وهل ټکول کيږي او د دخلکو له خوا ډيرى ډيرى پرى اورول کيږي. په داسې حال کې چې په دې برخه کې دشکايت لرونکو ښځو شمير لږه ده. په لومړى سرکې داسي معلوميږي چې ګواکې معلوليت لرونکې ښځودرناوى ترنارينه وو ډير کيږي، په داسى حال کې چې په ټولنه کې ښځي دکورونو څخه دنارينه وو په پرتله ډيرى لږ راوځي، دغه څه بايد زموږ په فکر کې اوسي. دافغانستان ټولنه يوه تړلې ټولنه ده، نو دښځو دټولنيزو کارونو له پاره فرصت ډير نه دي، معلوليت لرونکي ښځې نظرو هغه ښځو ته چې معلوليت نلري دډيرو خنډونو سره مخامخ دي. دمعلوليت لرونکو کسانو تر مينځ دجنسيت په اړه دستونزو ورته اړيکى له هغه څه نه پيچلي دي کوم چې موږ پورته بحث پرى وکړ چې دغه کسان په ټولنه کې ورسره مخامخ دي. دمثال په توګه معلوليت لرونکى نارينه په ټولنه کې تر معلوليت لرونکو ښځو ډير توهينيږي او پيغورونه ورته ورکول کيږي، په داسي حال کې چې معلوليت لرونکې ښځي بيا ډير ځله

په ټولنه کې دبيځايه ترحم سره مخامخ کېږی. جنسيت دفردي ازاديو دځنډيدو سره هم ورته اړيکې لري، په دې برخه کې ښځې دنارينه وو په پرتله ډير ځله ددغه شان ځنډ سره مخامخ کېږي.

په ټوليزه توګه معلوليت لرونکې ښځي او نارينه په ټولنه کې دځانګړو ستونزو سره مخامخ دی چې دغه ستونزی په جنسيت پوری تړلي اړيکي لري. ددې ترځنګه معلوليت لرونکی ښځې دنارينه وو په پرتله دحکومتي ځانګو څخه لږ مرستي ترلاسه کوي، دمثال په ډول دمرستو اخيستونکو څخه 78.57٪ نارينه دي او يوازی 23.43٪ يې ښځې دي. په همدې ډول نارينه دښځو په پرتله دغير دولتي موسسو څخه هم ډيري مرستي ترلاسه کوي (73.24٪ نارينه او 26.76٪ ښځې) دمرستو، ازمايښتي مرستو روغتيايې، او نغدي مرستو ونډه هم دجنسيت په پرتله توپير کوی. نو ځکه اړينه ده چې په دولتي ځانګو او غير دولتی موسسو کې دمعلوليت لرونکو کسانو دجنسيت موضوع ته په کلکه سره پاملرنه وکړو،په دې چې که وغواړو او ياهم ونه غواړو نو دمرستو په اخيستلو کې دمعلوليت لرونکو ښځو او نارينه وو ونډه يوشان نه ده يا په بله ژبه دوی دغه مرستو ته يوشان لاسرسی نلري. له بده مرغه چې په دې څېړنه کې هڅه وشوه چې ددغه نابرابری علت راځرګند کړو موږ بريالي نشوو. له بدليدونکي جنسيت څخه وروسته اوس پر دې يوځه رڼا اچوو چې لوست دمعلوليت لرونکې کس دستونزو سره اړيکې لری که نه؟

## 2- لوست:

دلوست بدليدونکو ځينو عواملو لکه بوختيا، دعايدو کچه، په ټولنه کې دهغه سره چلند کول او په کورنی کې دهغه دوضعيت سره ورته اړيکی لری. ددې څېړني دلاس ته راوړلو څخه داسی ښکاريږي چې په ټولنه کې دنالوستو معلوليت لرونکو کسانو دبيکارې کچه دلوستو نه ډيره ده، څېړنې وښودله، چې دلوستو معلوليت لرونکو کسانو څخه يوازی 29.4٪ يې بيکاران وه په داسي حال کې چې دنالوستو کسانو دګروپ څخه دبيکارانو شمير 70.6٪ ته رسيده. لوست لرل دمعلوليت لرونکی کس دکارپيداکولو کچه لوړوي ددې ترځنګه دمعلوليت لرونکو لوستو کسانو عايد هم دنالوستو څخه توپير لري. دلوستو معلوليت لرونکو لږو کسانو وويل، چې دوي بيکاره دي، په داسي حال کې چې نالوستو بيا خپل دبيکاري کچه لوړه وبلل او هيڅ ډول عايد نلري.

## لاندې جدول وګوري:

| اووم جدول: دلوست او مياشتني عايد تر مينځ ورته اړيکې | | | |
|---|---|---|---|
| مياشتنی عايد | لوستی | نالوستی | ټوله شمير |
| بي عايده | ٪35.7 | ٪48.7 | 456 |

| | | | |
|---|---|---|---|
| 0 -999 | ٪20.0 | ٪28.8 | 280 |
| 1000 -3499 | ٪34.6 | ٪20.2 | 45 |
| 3500 -9999 | ٪7.6 | ٪1.7 | 8 |
| 10000 -18999 | ٪2 | 0 | 5 |
| 19000+ | ٪0 | ٪1 | 265 |
| ټوله شمیر | ٪100 | ٪100 | 1059 |

## لوست او په ټولنه کې دمعلولیت لرونکې کس سره چلند کول:

ددې څیړني څخه داسي معلومیږي چې هغه معلولیت لرونکی چې لوست کولای شي ترنالوستی معلولانو په لړه کچه باندي دلفظي تاوتریخوالي سره مخامخ وي دا په داسي حال کې ده چې د فزیکې تاوتریخوالي په برخه کې دلوست او نالوست لرل دومره توپیر نکوي. دنورو معلولوماتو له پاره 8 جدول وګوري. خو سوال دادی چې ولي هغه معلولیت لرونکی چې لږ لوست لري یا یې نلري ترلوستو معلولیت لرونکو څخه ډیر ترلفظي تاوتریخوالی لاندې دي؟

یو دهغه سببونو څخه ممکن داهم وي، چې لوستي معلولیت لرونکی کسان په کارونو بوخت وي او دکار په سیمه کې دهغوی خلکو سره په اړیکو کې دي چې هغوی هم لوستی کسان دي او یا هم دمعلولیت څخه ډیر معلومات لري، او هم هغه معلولیت لرونکې کسان چې بوختیا لري نو په کوڅه او بازارکې ډیر نه ښکاری نو ځکه دټولنې دغړو وپیغورته لږ وخت لري، ددې ترڅنګه داهم ویلای شو چې ځواب ورکونکو چې داځواب ورکړي دی چې دوی لوستی کسان دي او پخپله په ښوونځی یا پوهنتون کې په زده کړو بوخت دي او هلته ټول کسان دلوست نعمت لري نو ددوی سره راشه درشه لرل پخپله دتاوتریخوالی کچه ټیټوی او یا یې له مینځه وړي.

لوست لرل دمرستو په اخیستلو کې هم ډیره مرسته کړیده، دمثال په توګه نالوستو معلولیت لرونکو کسانو دلوستو معلولیت لرونکو څخه لږه مرسته لاس ته راوړې ده. دځینو مرستو لکه روزنیزی نغدي دکالیو او خوړلو او دروغتیایې مرستو په برخه کې لوست لرونکو ډیره مرسته ترلاسه کړې ده کوم چې نالوستو کسانو کړې ده په ټولیزه توګه هغه معلولیت لرونکې کسان چې نالوستی دی یوازی پرغیر رسمي مرستو باندي یې تکیه کړې ده، په داسي حال کې چې لوستی معلولیت لرونکی کسان دهغه په څنګ کې ددولتي او غیر دولتي ارګانونو څخه مرستي ترلاسه کړي دي.

| نهم جدول: دمرستو اخیستنو په حالت کی دمرستندویه ټولونو نوم واخلی | | | | |
|---|---|---|---|---|
| | لوستي | نالوستي | ټول | په سلو کې |
| شخصي | ٪48.3 | ٪51.7 | 29 | ٪100 |
| دولتي | ٪36.5 | ٪63.5 | 148 | ٪100 |
| دموسسو خخه | ٪62.1 | ٪37.9 | 153 | ٪100 |

لکه څنګه چې مو مخکی ووېل لوست دبوختیا سره هم اړیکې لري، نو ددې عنصر (بوختیا) دروښانه کولو له پاره مو راتلونکي بحث دغې موضوع ته ځانګړی کړی دی، هغه سوالونه چې په دې بحث کی کېږی عبارت دی له:

آیا دیوې بوختیا لرل دهغو ستونزو څخه چې معلولیت لرونکی کس یې لری دهغه کچه راټیټوي؟

آیا هغه معلولیت لرونکی کسان چې بوختیا لري دبیکاره معلولیت لرونکو په پرتله په ټولنه کې او په کورنیو کې خوشاله ښکاري؟

## لوست او په کورنی کې دمعلولیت لرونکي کس سره چلند:

لوست دکرونیو غړو دچلند تر څنګه په ټولنه کې هم دمعلولیت لرونکی دچلند سره اړیکی لري، لکه څنګه چې معلولیت لرونکو کسانو ځواب ورکړی دی نو لوست لرونکې کسان پخپلو کورنیو کې دنالوستو کسانو څخه ډیر رضایت لري. دغه څه داهم څرګندوي چې په کورنیو کی ددغه کسانو سره تاوتریخوالی او بد چلند نه کېږي. نالوستی معلولیت لرونکې کسان په کورنیو کې له ډیرتاوتریخوالو سره لکه پیغور ورکول، توهینول، ریشخند وهل او نورو تاوتریخوالو سره مخامخ دي. او هم نالوستو معلولیت لرونکو کسانو دا شکایت درلود چې کورنیو یې ددوی فردي ازادی سلب کړې ده او هغوی اجازه نه ورکوی چې دوی ټولیزو مجلسونو او یا هم ددوستانو په ټولنو، او یا دزیارت تللو په مراسمو کې ګډون وکړي، نو ددوی په مخ کې خنډونه اچوي خو دمعلولیت لرونکی کس سره چلند کول پخپله دکورنیو دغړو په لوست او فرهنګ پوري هم اړه لری خو ددې موضوع ژوره څیړنه ډیره ګرانه وه او دغه څیړنه هغه نشي ترسره کولای څکه چې دټولو کورنیو دفرهنګ او لوست دسطحي شمیرنه زمونږ سره نشته، خو داسی هم اټکل کولای شو که چېری یو معلولیت لرونکی کس لوست ولری نو کېدای شي چې دده دکور نور غړي هم لوستی کسان وي او یا وواېو چې د معلولیت لرونکی کس لوست به دهغه کورنی دغړو پر چلند مثبته اغیزه کوي چې دده سره سم چلند وکړي، په هرصورت لوست کولای شي چې دمعلولیت لرونکی کس په مقابل کې دهغه دکورنی دغړو دچلند ته بدلون ورکړي، خو ټولنه بیا دلوستی او نالوستی معلولیت لرونکی کس په وړاندی بیل، بیل چلند کوي.

## اتم جدول: دلوست او تاوتریخوالي ترمنځ تړاوو

| دکورنیو په وسیله لفظي تاوتریخوالي | لوستی | نالوستی | ټول شمیر | په سلو کې |
|---|---|---|---|---|
| بد چلند کول | ٪43.5 | ٪56.5 | 23 | ٪100 |
| پیغور ورکول او رټل | ٪34.2 | ٪65.8 | 240 | ٪100 |
| پام نه کول – بی اعتنایې | ٪41.7 | ٪58.3 | 96 | ٪100 |
| **دکورنیو لخوا دفردي ازادیو سلبول** | | | | |
| دټولیزو مجلسونو څخه منع کول | ٪31.3 | ٪68.8 | 112 | ٪100 |
| ددوستانو دکورونو څخه منع کول | ٪40 | ٪60 | 15 | ٪100 |
| دمیلمستیاوو څخه منع کول | ٪25 | ٪75 | 32 | ٪100 |
| **دټولنې له خوا دتاوتریخوالي ډولونه** | | | | |
| توهینول | ٪45.9 | ٪54.1 | 451 | ٪100 |
| پیغور ورکول | ٪35.1 | ٪64.9 | 251 | ٪100 |
| بې ځایه ترحم | ٪37.6 | ٪62.4 | 101 | ٪100 |

## بوختیا، کار لرل:

بوختیا لرل او په ټولنه او کورنیو کې چلند:

دکارلرل د کورنۍ او ټولنې د چلند له ډول سره شمېرنی یاارقامي تړاوو لري. لکه څنګه چې په نهم جدول کې څرګندیږي هغه معلولیت لرونکی کسان چې بوختیا لري په ټولنه کې دبیکارانو په پرتله لږ دتاوتریخوالی سره مخامخ کېږي په دې مانا چې بیکاره معلولیت لرونکي کسان له ډول ډول تاوتریخوالي لکه لفظي، فزیکی تاوتریخوالي او د فردي ازادیو له څنډ سره مخامخ کېږي، په داسي حال کې چې کار لرونکي کسان یوازي دلفظي تاوتریخوالي سره مخامخ دي دشمیرنو له مخي ٪37.56 کار لرونکې او ٪62.44 بیکاره معلولیت لرونکي کسان دتاوتریخوالي سره مخامخ شوی دي دمثال په ډول بیکاره کسان تر کار لورنکو ډیر ځله د وهلو، ټکولو سره مخامخ شوي دي، رټل شوی او دپیغور ورګرځیدلي دي او یا هم په ټولیزو مجلسونو کې دهغوی دګډون مخه نیول کېږي.

(په ضمایمو کی دریم جدول په ټولنه کې دبوختیا لرونکو او بیکاره کسانو دتاوتریخوالی اړیکی راښیي)

| لسم جدول: دکارلرونکو او بیکاریو او په ټولنه او کورنیو کې د تاوتریخوالي تر مینځ ورته اړیکې | | | | |
|---|---|---|---|---|
| فزیکي تاوتریخوالی | کارلرونکی | بیکاره | شمیر | په سلو کې |
| وهل، ټکول | ٪22.9 | ٪77.1 | 35 | ٪100 |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| په لرګيو او ډېرو وهل | ٪24.6 | ٪75.4 | 69 | ٪100 |
| دکاليو خيرل او دشخصي توکو ماتول | ٪50.0 | ٪50.0 | 10 | ٪100 |
| بنديانول او سوځول | ٪28.6 | ٪71.4 | 7 | ٪100 |
| نور ټوله ډولونه | ٪28.6 | ٪71.4 | 14 | ٪100 |
| ټول شمير | ٪39.8 | ٪60.2 | 938 | ٪100 |
| لفظي تاوتريخوالی | | | | |
| بد ويل | ٪18.2 | ٪81.8 | 22 | ٪100 |
| رټل او پيغور ورکول | ٪25.8 | ٪74.2 | 229 | ٪100 |
| بي توجهي کول او بي اعتنايې | ٪44.9 | ٪55.1 | 89 | ٪100 |
| ټول شمير | ٪39.6 | ٪60.4 | 941 | ٪100 |
| دفردي ازاديو سلبول | | | | |
| په ټوليزه ټولنو کې دهغوی دګډون مخه نيول | ٪22.9 | ٪77.1 | 109 | ٪100 |
| ددوستانو دکورونو څخه منع کول | ٪23.1 | ٪76.9 | 13 | ٪100 |
| په ميلمستياو کې له ګډون څخه ايسارول | ٪34.4 | ٪56.6 | 32 | ٪100 |
| ټول شمير | ٪39.7 | ٪60.3 | 879 | ٪100 |

## کارلرل او دمرستو پيدا کول:

دکارلرلو او دټولنېزو موسسو او ارګانونو څخه دمرستو ترلاسه کولو ترمنځ هم ورته اړيکی شته که څه هم دکار لرونکو او بيکاره معلوليت لرونکو کسانو ترمنځ ددولتی او غير دولتی موسسو دمرستو دترلاسه کولو په اړه ډير توپير نشته، خو کار لرونکې کسان بيا تر بيکاره کسانو ډير پرخپل کار متکي دي او ډير لږ دموسسو دمرستو څخه ګټه اخلي يا په بله ژبه کار لرونکې معلوليت لرونکی 27.5٪ او بيکاره بيا 72.5٪ ددولتی موسسو څخه ګټه ترلاسه کوي.

## 4- دعايد لرل او په ټولنه او کورنيو کې (معلوليت لرونکي) دتاوتريخوالي ترمينځ اړيکې:

دعايد ترلاسه کول (لرل) او په ټولنه کې دمعلوليت لرونکو کسانو په مقابل کې دتاوتريخوالی ترمينځ اړيکی شته. لکه څنګه چې دلسم جدول څخه معلوميږي هغه معلوليت لرونکو چې دهغوی مياشتنی عايد لږ وو او يا هيڅ نه وو ، په ټولنه او کورنيو کې له ډير تاوتريخوالي سره مخامخ شوي دي. په کورنيو او ټولنه کې هغه معلوليت لرونکو چې عايد يې درلود په هغو کې دلفظی، فزيکی او د ازادۍ سلبولو تاوتريخوالی کچه تر نورو ټيټه وه، کوم چې هغوی عايد نه درلودي او دلفظي تاوتريخوالي په برخه کې هم هغه کسان چې د هغوی عايد ډير وو دهغو کسانو په پرتله چې بي عايده وه يا يې عايد لږ وو نو دتاوتريخوالي کچه يې بيخې لږ وه او ددغه ګروپ څخه لږو کسانو وويل چې ددوی شخصي ازادي سلب شوې ده، او يا يې ټوليزو مجلسونو ته نه دي پرې ايښی که چېرې مور ټولنې ته نظر واچوو نو بيا هم

دعاید موضوع دمعلولیت لرونکو کسانو په اړه دتاوتریخوالي کچه لوړه او ټیټه کړې ده یا نی هغه کسان چې عاید یې دنور په پرتله ډیر وو نو برعکس دده په اړه تاوتریخوالی لږ وو (لفظی تاوتریخوالی) داهم باید ووایو چې فزیکی تاوتریخوالی او دازادیو دسلبولو تاوتریخوالی بله هغه موضوع ده چې معلولیت لرونکې کسان ورسره مخامخ دي. نو دې نتیجي ته رسیږو چې دعاید کچه کولای شی په ټولنه کې دتاوتریخوالی کچه راټیټه کړي او یا خوبیخي یې دمینځه یوسي خو دا په دې مانا هم نه ده چې عاید په مستقیمه توګه دټولنې او کورنۍ دتاوتریخوالي مخه نیسي دبلګې په توګه لکه دمخه مو چې وویل دعاید لرل هم دلوست او کار په لرلو پورې اړه لری او دا دواړه بیا دتاوتریخوالی دمختلفو ډولونو سره په اړیکو کې دي کوم چې په ټولنه کې جاری دی. نو نشو کولای چې په قطعی توګه دعایدو او دتاوتریخوالي ترمینځ اړیکې یو ثبوت شوی واقعیت وګڼو، او دا دمعلولیت لرونکو کسانو په اړه دبشر دحقونو تر پښولاندي کولو سبب بولو خو دعاید لرلو عناصرو دکچو ترمینځ ورته اړیکې شته او دا دشمیرني یو مهم اصل شمیرل کیږي.

**یو لسم جدول: په کورنیو کې دمیاشتني عاید او دتاوتریخوالي د ډولونو ترمینځ ورته اړیکی لرل**

| میاشتنی عاید | دټولیزو ټولنو څخه منځ کول | دمیلمستیاو څخه منځ کول | ددوستانو دکورنو نه منځ کول | دټولیزو مراسمونه منځ کول | بې ځایه ترحم | پیغور ورکول | توهینول |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| بې عایده | ٪51.2 | ٪48.4 | ٪53.3 | ٪70.4 | ٪43.2 | ٪48.6 | ٪65.2 |
| 0 -999 | ٪25.6 | ٪35.5 | ٪13.3 | ٪14.8 | ٪24.2 | ٪31.1 | ٪21.7 |
| -3499 1000 | ٪23.3 | ٪9.7 | ٪26.7 | ٪14.8 | ٪29.5 | ٪18.7 | ٪8.7 |
| -9999 3500 | ٪0 | ٪3.2 | ٪0 | ٪0 | ٪1.1 | ٪1.7 | ٪0 |
| -18999 10000 | ٪0 | ٪0 | ٪0 | ٪0 | ٪1.1 | ٪0 | ٪43.5 |
| 19000+ | ٪0 | ٪3.2 | ٪6.7 | ٪0 | ٪1.1 | ٪0 | ٪0 |
| ټول شمیر | 86 | 31 | 15 | 27 | 95 | 241 | 23 |
| په هر سلو کې | ٪100 | ٪100 | ٪100 | ٪100 | ٪100 | ٪100 | ٪100 |

## 5- اقتصادي وضعيت:

دغه موندني دا په ډاګه کوي لکه د جنسيت ځيني بدلونونه چې له ډول- ډول لفظي، فزيکي تاوتريخوالي او د آزاديو له ځنډيدو سره اړيکې لرى. دا بايد وليکو چې معلوليت لرونکې ښځي تر نارينه وو دخپل اقتصادي حالت نه خوشاله او راضي دي شميرنې ښيي چې 65.2٪ ښځي وايې چې ددوی اقتصادي حالت کمزوری دی، په داسې حال کې 75.2٪ نارينه دخپل اقتصادي حالت څخه ناراضه ښکاري دا په داسي حال کې ده چې دهغو نارينه وو شمير چې عايد لري دښځو په پرتله په هرو سلو کې ډيروالي راښيي او هم د مياشتنی عايد په لرلو سره هم دنارينه وو عايد دښځو په پرتله لوړ دی. خو دا چې ولي ښځي تر نارينه وو دخپل اقتصادي حالت څخه راضي ښکاري دا ځانګړی بحث دی چې په جلا توګه بايد پرې څيړنه وشي او دغه بحث به تردې لوی وي چې دلته پری څه وليکو، په ځانګړي توګه ددې موضوع ژور تحليل دسوالونو پر اساس په دې پوښتنليک کې ممکن نه وو. هغه بحث تر دې څيړني لوي او ژور ښکاري، خو په ټوليزه توګه ويلای شو چې ښايي ښځي ترنارينه وو راضي موجود وي، او که ښځې بيکار وي ښايي دا احساس پکې غښتلی وي که هغوی دکور نه بهر کار هم نکوي او عايد نه لري خو بيا هم هغه څخه چې ددوی ميړونه ګټی نو په هغه هم راضی ښکاری.

دجنسيت له بدلونونوڅخه بهر داقتصادی حالت نه رضايت په داسی بدلونونوڅخه لکه په کور او ټولنه کې په لفظي تاوتريخوالي پوري اړه لري په دې مانا هغه کسان چې دخپل اقتصادي وضعی څخه ناراضه دي هغوی دخپل کورنی او ټولنې دچلند څخه ناراضه ښکاري، چې داموضوع مو ترمخه وڅيړله او په دې ډول دغه څه دمخکنيو څيړنو پر صداقت باندې دلالت کوي او ددې نظر ملاتړ کوي، چې دمعلوليت لرونکي کس سره په ټولنه او کورنۍ کې څه وضعه کيږي، په پايله کې ويلای شو چې دښه اقتصادي وضعې لرل په مستقيمه او يا غير مستقيمه توګه دمعلوليت لرونکو کسانو په مقابل کې دټولنې او کورنۍ دچلند نرمي راښيي.

## پايلې (نتيجې) او غوښتنې (وړانديزونه)

ددغه څيړني څخه په لاس راغلي معلومات نه يوازې دولت ته متوجه دي بلکې داړونده ارګانونو له پاره هم په کار راځي. دپورته څيړونو سره چې ترسره شوی دي ځينی وړانديزونه ترتيب شوي دي چې په لاندي برخه کې وړاندي کيږي:

ډير معلوليت لرونکې کسان په کورنۍ او ټولنه کې له تاوتريخوالي څخه شکايتونه لري، چې په هغه کې لفظي، فزيکي تاوتريخوالی او دازاديو سلبول شامل دي، دډيرو له هغو معلوليت لرونکو کسانو سره چې مرکې شوي دي ډېرو يې د تاوتريخوالي يادونه کړيې چې په ټولنه کې ورسره مخامخ دي، په توګه:

• ددولت اړونده ارګانونه کولای شي چې په ټولیزډول د پوهاوي دکچې دلوړولو له پاره هڅې وکړي.
• دټولنېزو ځانګړو اسانتیا وو برابرول او دهغوی نه ملاتړ د دولت ددندو څخه شمیرل کېږي.
• ولس ته دټولیزو رسنیو لارې دپوهاوي دلوړولو پروګرامونو ترتیبول، ملایان او دیني لارښونکې کولای شي چې په ټولنه کې دمعولیت لرونکو کسانو په اړه دتاوتریخوالي دشدت کچه راټیټه کړي. دغې ښوونې پرمخ بیول چې معلولیت لرونکی کسان دهیواد دنورو اتباعو په شان دمساوې حقونو لرونکې دي کولای شی چې ګټورتمام شی او دمعلولیت لرونکو کسانو د ژوند دښه کولو له پاره ځانګړي قوانین وړاندی شي.
• دافغانستان اساسي قانون دمعلولیت لرونکو کسانو له پاره ځانګړی لارښووني نلري نو دهیواد په قوانینو کې دمعلولیت لرونکو کسانو د حقونو شاملول او په دې اړه ددولتي ارګانونو مسوولیتونه کولای شی چې دمعلولیت لرونکی کسانو ژوند ورسم کړي.
• له بله پلوه دافغانستان د دولت لخوا دنړیوالو میثاقونو لاسلیک کول چې دمعلولیت لرونکو کسانو له پاره ترتیب شوي دی، په هغه باندي عمل هم دپورته کسانو دژوند ښه کولو له پاره مثبت ګام دی.
• دښونځیو په درسي پروګرامونو کې دمعلولیت لرونکې کسانو دکرامت ساتلو په اړه د مضمونونه لیکل دلوست په کورسونو او دلویانو د لوست زدکړو په کورسونو کې دمعلولیت لرونکو کسانو له پاره احترام لرل هم کولای شي چې ددوي په اړه دتاوتریخوالي کچه راټیټه کړي.
• دداسې اسانتیاوو برابرول چې معلولیت لرونکي کسان وکولای شي دروغتیایي خدمتونو څخه سمه ګټه ترلاسه کړي او نوری اسانتیاوی چې دمعلولیت لرونکي کسانو په ستونزو کې اسانتیاوې راولي چې داکار به د دولتي او غیر دولتي کسانو تر مینځ دتوپیر سطحه راټیټه کړي.

خو هغه څه چې په مستقیمه توګه کولای شي، چې دمعلولیت لرونکو کسانو په ژوند کې مثبت بدلون راولي هغه لکه لوست کول، بوختیا لرل او دعاید پیداکول هغه عوامل دي چې دپورته کسانو رضایت، دکورنی اقتصادي حالت او په ټولنه او کورنیو کې ددوی سره چلند ښه کړي.
• دمعلولیت لرونکې کسانو له پاره دبوختیااو کار پیدا کول هم کولای شی چې دمعلولیت لرونکو کسانو دستونزو کچه راټیټه کړي.
• دلومړنیو زده کړو پروګرامونو پرانستل په ځانګړی توګه دلوست کورسونه کولای شی چې دمعلولیت لرونکو کسانو له پاره دکار زمینه برابره کړي.
په ودانیو کې دمعلولیت لرونکو کسانو له پاره اسانتیاوی برابرول چې دوي وکولای شی پخپلو څوکېو (ویل چېر) او یا نورو توکو سره هغه ته وخیژي، چې په دې ډول پورته کسان دټولنې څخه جلا پاته نه شي.

# ضمایم:

## لومړی جدول:

| په کورنیو کې دمعلولیت لرونکو کسانو رول | په هر سلو کې | دځواب ورکونکو شمیر |
|---|---|---|
| پلار | ٪50.7 | 491 |
| مور | ٪10.6 | 103 |
| زوی | ٪26.3 | 255 |
| لور | ٪8.6 | 83 |
| نور موارد | ٪3.7 | 36 |
| ټول شمیر | ٪100 | 968 |

## دویم جدول: دولایتونو په پرتله دلوست دتوپیر کچه

| ولایتونه | نالوستي | لوستي | ټول شمیر | په هر سلو کې |
|---|---|---|---|---|
| کابل | 63.17 | 63.83 | 141 | ٪100 |
| مزار شریف | 30.56 | 69.44 | 72 | ٪100 |
| هرات | 54.87 | 45.12 | 82 | ٪100 |
| کندهار | 57.14 | 42.86 | 63 | ٪100 |
| ننگرهار | 49.4 | 50.6 | 83 | ٪100 |
| لغمان | 56.4 | 43.96 | 91 | ٪100 |
| پکتیا | 77.46 | 22.54 | 71 | ٪100 |
| بامیان | 76.81 | 23.19 | 69 | ٪100 |
| پروان | 58.57 | 41.43 | 70 | ٪100 |
| کندز | 53.85 | 46.15 | 65 | ٪100 |
| تخار | 59.7 | 40.3 | 67 | ٪100 |
| بادغیس | 66.2 | 33.8 | 71 | ٪100 |
| هلمند | 73.47 | 26.53 | 49 | ٪100 |
| جوزجان | 66.67 | 33.33 | 78 | ٪100 |
| ټول شمیر | 56.44 | 43.56 | 1072 | ٪100 |

## دریم جدول: په ټولنه کې دبوختیا لرلو (کار) او تاوتریخوالی ترمینځ ورته اړیکې

| دټولنی له خوا فزیکی تاوتریخوالی | کارلرونکی | بیکاره | شمیر | په هرو سلو کې |
|---|---|---|---|---|
| وهل، ټکول | ٪21.74 | ٪78.26 | 23 | ٪100 |
| په لرګیو او ډبرو وهل | ٪17.78 | ٪82.22 | 90 | ٪100 |
| دمعلولیت لرونکی کس ته دتوکو غورځول | ٪31.30 | ٪68.97 | 619 | ٪100 |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ټول شمیر | 39.62٪ | 60.68٪ | 732 | 100٪ |
| دټولنی له خوا لفظي تاوتریخوالی | | | | |
| توهینول او ریشخند وهل | 37.56٪ | 62.44٪ | 418 | 100٪ |
| پیغور ورکول | 38.98٪ | 61.02٪ | 236 | 100٪ |
| بي ځایه ترحم | 29.03٪ | 70.97٪ | 93 | 100٪ |
| ټول شمیر | 39.62٪ | 60.38٪ | 954 | 100٪ |

## 2- دنورو معلوماتو له پاره جدولونه

په ولایتونو کې دځواب ورکونکو ویشنه

د1802 کسانو څخه چې معلولیت یي درلودی او پوښتنلیکونه یي ډکی کړي دی دهغوی ولایتونه په لاندي جدول کې لیکل شوی.

## څلورم جدول:

| ولایتونه | په هرو سلو کې | دځواب ورکونکو شمیر |
|---|---|---|
| کابل | 13.2٪ | 143 |
| بلخ | 6.7٪ | 72 |
| هرات | 7.6٪ | 82 |
| ننګرهار | 6.0٪ | 65 |
| لغمان | 8.5٪ | 92 |
| پکتیا | 6.6٪ | 71 |
| بامیان | 6.5٪ | 70 |
| پروان | 6.5٪ | 70 |
| کندز | 6.0٪ | 65 |
| تخار | 6.5٪ | 71 |
| بادغیس | 6.6٪ | 70 |
| هلمند | 4.5٪ | 49 |
| جوزجان | 7.2٪ | 78 |
| ټول شمیر | 100٪ | 1082 |

## پنځم جدول:

| دمعلولیت سبب | په هرو سلو کې | دځواب ورکونکو شمیر |
|---|---|---|
| بي ځوابه | ٪1.9 | 21 |
| دموره داسي زیریدلی | ٪12.8 | 139 |
| تاوتریخوالی او فردی مخالفت | ٪3.1 | 34 |
| داخلي جګړې | ٪3.1 | 34 |
| ناروغي | ٪58.8 | 636 |
| طبیعی پیښي | ٪6.6 | 71 |
| ترافیکې پیښي | ٪2.5 | 27 |
| نور موارد | ٪0.6 | 6 |
| ټول شمیر | ٪100 | 1082 |